UNAMA
د بشري حقونو خدمتونه
UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

## په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه درې میاشتنی راپور

## د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د سپټمبر د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې

د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ۲۰۱۴ کال راهیسې د نهو میاشتو په دوران کې د زیاترو ملکي وژنو د ریکارډولو په شمول، د وسله والې شخړې له امله د ملکي کسانو د زیان د ډیرې کچو مستند کولو ته دوام ورکړی. یوناما د وسله والې شخړې د ټولو خواوو څخه بیا غوښتنه کوي څو د ملکي کسانو ښه ساتنه وکړي او د ټولو ډلو څخه غوښتنه کوي څو د یوې سوله ییزې حل لارې د موندلو لپاره دملکي وګړو د ساتنې لپاره عملي اقدامونه ترسره کړي.

د جنوری د لومړۍ څخه د سپټمبر تر ۳۰ نیټې پورې، یوناما ټولټال ۸۰۵۰ ملکي تلفات (۲۷۸۹ مړینې او ۵۲۵۲ ټپي کیدنې) مستند کړي[1]، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په څیر د ملکي کسانو په وړاندې د زیان ورته شدیدې کچې منعکسوي. په داسې حال کې چې د ټپي شوویو ملکي کسانو شمیر درې سلنه را ټیټ شوی، د ملکي کسانو مړینه پنځه سلنه لوړه شوې.

د ۲۰۱۸ په اولو نهو میاشتو کې د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ګډه کارونه د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاتې شوی، چې د ټولو ملکي تلفاتو نږدې نیمایي برخه جوړوي. زیاتره ملکي تلفات د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله را منځ ته شوې،کوم چې د فریکونسي او مرګ ژوبلي له پلوه زیات شوي او د ملکي مړینې په برخه کې ټولیز




[1] ټولټال ۸۲۹ ښځینه تلفات (۲۵۰ مړینې اوو ۵۷۹ ټپي کیدنې) او د ماشومانو ټولټال ۲۱۳۶ تلفات (۶۵۳ مړینې او ۱۴۸۳ ټپي کیدنې) احتوا کوي.

[2] د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ څخه د سپټمبر د میاشتې تر ۳۰ پورې، یوناما د ننګرهار په ولایت کې ټولټال ۶۰۹ ملکي تلفات (۲۳۲ مړینې او ۳۷۷ ټپي کیدنې) مستند کړي.

زیاتوالی را منځ ته کوي. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو دوهم مخکښه لامل پاته شوی او ور پسې هدفي او عمدي وژنې، هوایي عملیات او د جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي راځي. د ننګرهار، کابل، هلمند، غزني او فاریاب ولایتونو اوسیدونکي د شخړې له امله ډیر اغیزمن شوي. یوناما په ډیره خواشیني سره یادونه کوي چې ننګرهار هغه ولایت دی چې د ۱۴۹۴ ملکي تلفاتو (۵۵۴ مړینې او ۹۴۰ ټپي کیدنو) په درلودولو سره د ۲۰۱۸ کال په اولو نهو میاشتو کې تر ټولو زیات ملکي تلفات ثبت کړي، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې پر مهال په ننګرهار ولایت کې د ثبت شویو ملکي تلفاتو د دوو برابرو څخه زیات ارقام دي چې ثبت شوي دي.[2]

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو او دله ییزو بریدونو په نتیجه کې د ملکي کسانو په شمیر کې زیاتوالی د هغه نیمايي څخه زیات دي کوم چې داعش ډلې ته منسوب شوی، د ځمکنیو نښتو پر مهال د را منځ ته شویو تلفاتو په برخه کې د ۱۸ سلنې کموالي او همداراز د هدفي او عمدي وژنو په برخه کې د ۳۲ سلنه کموالي په شمول د نورو نمونو د پیښو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی په دوامداره توګه له منځه وړي.




د ملکي کسانو د تلفاتو منسوبونه

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه د سپتمبر د میاشتې تر ۳۰، دولت ضد عناصر د ټولټال۵۲۴۳ ملکي تلفاتو (۱۷۴۳ مړینو او ۳۵۰۰ ټپي کیدنو) لامل شوي، چې دا د ټولو ملکي تلفاتو ۶۵ سلنه جوړوي چې تقریبا د ۲۰۱۷ کال د همدې مودې سره ورته دی. د ۶۵ سلنه ملکي تلفاتو له جملې څخه چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي،۳۵ سلنه طالبانو، ۲۵ سلنه داعش او ۵ سلنه ناپیژاندو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي(په شمول د نیم سلنې څخه کم هغو کسانو ته چې ځانونه داعش بولي). د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو کارول په تیره بیا د ځانمرګو

بریدونو پر مهال د ملکي کسانو د تلفاتو تر ټولو مخکښه لامل پاته شوی کوم چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی. د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله په ټولیز ملکي تلفات ۲۱ سلنه زیات شوې، په داسې حال کې چې د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو په نتیجه کې ملکي تلفات ۴۶ سلنه زیات شوې. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو بل مخکښه لامل دی چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۲۶ سلنه کموالي ښیي.




یوناما د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نیټې څخه د سپتمبر تر ۳۰ نیټې پورې، دولت پلوه ځواکونو ته ۱۷۵۳ تلفات (۷۶۱ مړینې او ۹۹۲ ټپي کیدنې) منسوب کړې، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله نهه سلنه کموالي ښیي. دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۲ سلنې لامل شوې(د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ۱۶ سلنه، د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا ۵ سلنه او د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ۱ سلنه). د دولت پلوه ځواکونو له خوا اکثرا ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې را منځ ته شوې، د ځمکنیو نښتو په برخه کې د ۱۷ سلنه کموالي سربیره ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو ته (په تیره بیا افغان ملي امنیتي ځواکونو ته) منسوب شوې.
د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو بل مخکښه لامل هوایي بریدونه دي، د کومو له امله چې یوناما د ملکي تلفاتو په برخه کې ۳۹ سلنه زیاتوالی مستند کړی، د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالي سره یو ځای د ځمکنۍ نښتې په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی له منځه وړي.

**هغه بریدونه چې ځانمرګي او غیر ځانمرګي ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي کاروي**

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګواو غیر ځانمرګو د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ګډ کارول د وسله والې شخړې د ملکي مرګ ژوبلې مخکښه لامل پاته شوی او د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ریکارډ شویو لوړو کچو ته اوچت شوی، دولت ضد عناصر په زیاتیدونکې توګه دا ډول بریدونو کې د لږکیو هزاره توکمه شیعه مسلمانانو په شمول، ملکي کسان هدف ګرځوي . د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ځانمرګي او غیر ځانمرګي د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د بریدونو له امله ۳۶۳۴ ملکي تلفات (۱۰۶۵ مړینې او ۲۵۶۹ ټپې کیدنې) مستند کړې. د ۲۰۱۸ په اوږدو کې، دولت ضد عناصرو په ګڼ میشته سیمو او د ملکي وګړو په وړاندې خپل بریدونه ډیر کړې، په زیاتیدونکې توګه دا ډول د ځای په ځای شوي چاودیدونکې توکې چې په زیاته اندازه چاودیونکې توکې لرې او همدارنګه متعددې الې کاروي، چې په نتیجه کې یې زیات ملکي تلفات را منځ ته کیږي.

یوناما یادونه کوي هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکیان په نښه کوي د ملکي کسانو وژنه د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې جدي سرغړونه ده او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[3] د دې علاوه، د ملکي وګړو په وړاندې په پراخو او سستیماتیکو بریدونو کې په کومو کې چې ملکي کسان (د مذهبي او/یا نورو قومي لږکیو په شمول) په عمدي توګه وژل کیږي ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[4] د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په پایله کې د ملکي زیان په اړه اضافي معلومات د یوناما د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د ۷ نېټې په ځانګړي راپور کې ترلاسه کیدای شي او د ځانمرګو او غیر




[3] دریمه عمومي ماده، دوهم اضافي پرتوکول، ۴(۲) ۱۳ (۲)، د روم اسانامه، ۸ (۲) (c) او ۸ (۲) (e)(i )، ای سی ار سی د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څیړنه، ۱، ۶، ۸۹، ۱۵۶ قاعدې.

د بیلګې په توګه، د بشریت په وړاندې جرمونه لکه څنګه چې د رومم د اساسنامي په ۷ ماده کې تعریف شوي، د نورو شیانو تر څنګ لاندې موارد را نغاړي. د قتل عملونه، ډله ییزه وژنه، یا د هر ډول پیژندل شوي ډېو په وړاندې عدلي تعقیب، یا د سیاسي، نژادي، ملي، قومي، فرهنګي ، دیني جنډر او نورو زمینو، او د ورته خصوصیت نور غیر بشري عملونه چې په عمدي ډول زیات زیان اړوي، یا د بدني، رواني او فزیکي روغتیا د جدي ټپې کیدو لامل کیږي، کله چې د یوه پراخ او سیستماتیک برید د یوڅ برخې په حیث ترسره شي او د برید په درک سره د ملکي وګړو په وړاندې رهبري شي. [4] په وړاندې

ځانمرګو د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو[5] د کارولو په پایله کې د ملکي مخ پر زیاتیدونکي زیان په وړاندې اندیښنې خلاصه کوي.

ځمکنۍ نښتې

ځمکنۍ نښتې لا اوس هم د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل دی، چې د ۲۳۱۱ ملکي تلفاتو (۶۰۵ مړه او ۱۷۰۶ ټپیان) لامل شوي او د ټولو ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه جوړوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو له خوا په ملکي تلفاتو کې د کموالي له امله، د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات د ۲۰۱۳ کال راهیسې تر ټولو ټیټې کچې ته راکم شوي. دغه کموالی همدارنګه د دې ښکارندوی دی، چې د جګړې ښکیلو خواوو د ځمکنیو نښتو پرمهال له زیان څخه د ملکیانو د ساتنې لپاره تدابیر په پام کې نیولي. په ۲۰۱۸ کال کې، سرچینو یوناما ته د دې راپور ورکول جاري ساتلي، چې ښکیلو خواوو د ځینو عملیاتو له ترسره کولو مخکې ملکیانو ته خبر ورکړی، او دا چې




افغان ملي امنیتي ځواکونو په ملکي میشتو سیمو کې کم شمیر درنې وسلې کارولې. دا هغه ساحه ده پر کومې چې یوناما په دې وروستیو کلونو کې د جګړې له ښکیلو خواوو سره خپله مدافعه په دوامدار ډول متمرکزه ساتلې.

عمدي او هدفي وژنې

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د سپتمبر د ۳۰ ترمنځ هدفي او عمدي وژنې لا اوس هم د ملکي تلفاتو دریم مخکښ لامل دي، چې د ۶۶۸ ملکي تلفاتو (۴۳۹ مړه او ۲۲۹ ټپیان) لامل شوي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۳۲ سلنه کموالي په ډاګه کوي. دولت ضد عناصر د دغه ډول ملکي تلفاتو د ۸۹ سلنې لامل شوي، چې په عمده ډول طالبان دولتي ملکي کارمندان او هغه ملکیان، چې دولت پلوه ځواکونو ته په جاسوسۍ یا د معلوماتو پر برابرولو تورن

[5] د یوناما په ویب پاڼه د لاسرسي وړ ده: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

دي، په نښه کوي. دولت پلوه ځواکونه د دغه تاکتیک له امله د پاتې ۱۱ سلنه تلفاتو لامل شوي، چې په عمده ډول دولت پلوه ملیشې په قصدي ډول ولسي وګړي وژني یا متضرر کوي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوایي عملیات

د دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوي هوايي عمليات د ټولو ملکي تلفاتو د اته سلنې لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ او سپټمبر ترمنځ د ملکي تلفاتو څلورم مخکښ لامل ګڼل کیږي. د یوناما ماموریت ۶۴۹ ملکي تلفات (۳۱۳ مړه او ۳۳۶ ټپیان) مستند کړي، چې د هوايي عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۳۹ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پیل کړي، د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې د هوايي عملیاتو له امله د ملکي تلفاتو ثبت شوي شمیر، د ملکي تلفاتو له هغه شمیر څخه زیات شوي چې د دغه تاکتیک له امله په ټول کال کې ثبت شوي.

د هوايي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې زیاتره زیاتوالی نړیوالو نظامي ځواکونو ته د منسوب شویو پیښو په پایله کې رامنځ ته شوی کوم چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې دوه برابره زیات شوي. دغه اندیښمنوونکی جریان، د دواړو افغان[6] او نړیوالو نظامي ځواکونو[7] له خوا د زیات شمیر هوايي بریدونو د ترسره کولو د دوامدارو رارسیدونکو راپورونو په مهال را منځ ته شوی. یوناما د هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو ۵۱ سلنه نړیوالو




[6] د افغانستان د دفاع وزارت د مطبوعاتي اعلامیې له مخې، افغان هوایي ځواک د د ۲۰۱۸ کال د جولای د ۱ او د سپټمبر د ۳۰ تر منځ ۴۰۷ هوايي بریدونه تر سره کړي . وګورئ : .,http://mod.gov.af/en/blog په وروستي د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۹ کتل شوې.

[7] د دغه راپور تر د خپرولو پر مهال، د هوا له لارې د توغول شویو وسلو اړوند میاشتني ارقام کوم چې به په عادي ډول د امریکا د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د مرکزي قوماندې پر ویب پاڼې د لاس وړ و، د ۲۰۱۸ کال د جولائ له ۳۱ نېټې راپدیخوا د لاس رسي وړ نه وو. دغه ویب پاڼه وګورئ، http://www.afcent.af.mil/about/airpower-summaries/ په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۹ کتل شوې. د اکتوبر پر ۴، په افغانستان کې امریکایی ځواکونه د سپټمبر په میاشت کې د ځمکنیو او هوایي عملیاتو په ترځ کې د خپلو تر سره کړیو هوايي بریدونو په اړه یو لنډ راپور د ناټو د غوڅ ملاتړ پر ویبپاڼې خپور کړ. وګورئ: https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-press-releases/us-forces--afghanistan-september-2018-strike-summary.aspx، په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۹ کتل شوې.

نظامي ځواکونو، ۳۸ سنله افغان هوايي ځواک او پاتې ۱۱ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې، چېرې چې د منسوبونې مشخص لوری نه دی په ډاګه شوی.

ښځې او ماشومان لا اوس هم د ټولو هوايي بريدونو د ملکي تلفاتو ۶۰ سلنه جوړوي او د دغو بريدونو له امله د ماشومانو تلفات د ۲۰۱۷ کال د لومړيو نهو مياشتو په پرتله ۵۳ سلنه لوړ شوي. د هوايي بريدونو له امله د ښځو او ماشومانو زياتره تلفات پر ملکي ميشتو سيمو د بريدونو پرمهال رامنځ ته شوي، چې زياتره وخت هغه دولت ضد عناصر په نښه کوي چې له ملکي وګړو سره يو ځای وي او هغه چا چې ځينې وختونه دولت پلوه ځواکونه له ملکي ميشت ځايونو څخه په نښه کړي وي.

څرنګه چې په ۲۰۱۸ کال کې د يوناما له خوا د مستند شويو هوايي عملياتو له امله د ملکي تلفاتو شمير لا وار د مخه بې سارې ريکارډ ته رسيدلي، ماموريت يو ځل بيا دواړو افغان هوايي ځواک او نړيوالو نظامي ځواکونو ته ددې سپارښتنه کوي چې د هدف نيولو او په جګړه کې تر ښکيلتيامخکې احتياطي تدابير بيا وګوري، په ميشتو سيمو کې د ملکيانو د شتون د لوړ احتمال په پام کې نيولو او له دغې انګيرنې سره چې ټول اشخاص ملکيان دي، مګر دا چې بل ډول ثابت شي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا چاپيز عمليات

د ۲۰۱۸ په لومړيو نهو مياشتو کې، يوناما ۲۲۲ ملکي تلفات (۱۷۸ مړه او ۴۴ ټپيان) مستند کړي، چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د چاپيزو عملياتو پرمهال رامنځ ته شوي، د هغه شمير دوه برابره چې د ۲۰۱۷ کال په ورته موده کې ثبت شوي.[8] يوناما ۱۴۳ ملکي تلفات (۱۲۴ مړه او ۱۹ ټپيان) چاپيزو عملياتو ته منسوب کړي، چې د ملي امنيت د رياست ځانګړي ځواکونه په کې يا په يوازې ځان يا هم د نړيوالو نظامي ځواکونو سره په ګډه ښکيل وو.

د چاپيزو عملياتو پرمهال په رامنځ ته کيدونکو ملکي تلفاتو کې د زياتوالي سربيره، يوناما د دغو عملياتو پرمهال د بشري حقونو سرغړونو د تورونو د انديښنې يادونه کوي. ماموريت پرلپسې باوري راپورونه ترلاسه کړي، چې د خوست ساتنې ځواک په ګډون د ملي امنيت رياست ځانګړي ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې په قصدي ډول ملکي ملکيتونه ويجاړوي، د د غير قانوني توقيف او نورې سرغړونې ترسره کوي. يوناما د داسې ادرسونو په لټه کې ده چې د ملي امنيت د رياست هغه پيښې تفکيک کړي، چې ملکي وګړي يې اغيزمن کړي وي. يوناما د يوې بلې انديښنې يادونه کوي، کوم څه چې د دغو ځواکونو له خوا د ترسره شويو سرغړونو لپاره د احتساب نشتون دی، او د ملي امنيت رياست د ځانګړو ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو په ضد د بشري حقونو د سرغړونو او ملکي تلفاتو د ټولو تورونو د څيړنې سپارښتنه کوي. د يوناما ماموريت د ملي امنيت له رياست او له هغو نړيوالو نظامي ځواکونو څخه چې د ملي امنيت رياست له ځانګړو ځواکونو سره کار کوي غوښتنه کوي، چې د يوناما لپاره يو رابط شخص معلوم کړي د کوم له لارې چې ښايي يوناما له دغو ډلو سره په اړيکه کې شي.

د ۲۰۱۸ کال په اګست په غزني ښار کې د جګړې په نتيجه کې ملکيانو ته اوښتی زيان

د اګست په ۱۰، طالبانو د غزني په ښار په عمده توګه د افغان ملي امنيتي ځواکونو د تلاشي د پوستو او تعميرونو او همداراز د دولتي دفترونو په وړاندې بريد پيل کړ. طالبانو همدارنګه د مخابراتو په پايو بريد وکړ چې په نتيجه کې يې د مخابراتو شبکې مختل شوې او د جګړې پر مهال يې له ملکي کورونو څخه کار اخيست. د ښار اوسيدونکو د څښاک د

[8] د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لومړۍ او سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، يوناما د چاپيزو عملياتو له امله ۸۸ ملکي تلفات مستند کړي.

اوبو او خوړو د کموالي تر څنګ د برېښنا انقطاع تجربه کړه او د جګړې له امله تر ډېره په خپلو کورونو کې ایسار پاته شول. کله چې د اګست د میاشتې په ۱۳ نېټه د پاکارې عملیات پیل شول، افغان ملي امنیتي ځواکونو د نړیوالو پوځي ځواکونو په ملاتړ د ښار کنترول بیا تر لاسه کړ او او بنسټیز خدمتونه له سره پیل شول.

د برید پر مهال او د جګړې د مودې په اوږدو کې، ملکیانو ته زیات تلفات واوښتل. د جګړې له امله زیات ملکي تلفات را منځ ته شول چې د غزني عامه روغتون یې د ځایدو ظرفیت نه درلود او یو شمیر زیاتي کورنۍ یې دې ته اړې کړي چې ګاونډ ولایتونو ته وکوچیږي. د اکتوبر تر ۷ نیټې پورې، یوناما د طالبانو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنیو نښتو په پایله ټولټال ۲۱۰ ملکي تلفات (۶۹ مړینې او ۱۴۱ ټپي کیدنې) تایید کړي کوم چې د غزني په ښار کې د ۲۰۱۸ کال د اګسټ د ۱۰-۱۵ نیټو تر منځ واقع شول. یوناما همدارنګه د طالبانو له خوا د یوه څارنوال عمدي وژنه او د انتخاباتو د بهیر د یوه نوماند تښتونه څوک چې بیا وروسته مړ پیدا شو او همداراز یې ملکي جایدادو ته قصدي زیان تصدیق کړی.

یوناما همداراز د ملکي تلفاتو د پاتې متعددو ادعاوو د اثبات لپاره چې په غزني د دغه برید پر مهال را منځ ته شوې په دوامداره توګه خپل کار ته دوام ورکوي.

د ټاکنو پورې اړوند بریدونه

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، یوناما د ټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالي له امله ۳۶۶ ملکي تلفات (۱۲۶ مړه او ۲۴۰ ټپیان) ثبت کړي، چې د جګړې خواوې په کې ښکیلې وي او زیاته برخه یې (له ۲۵۰ تلفاتو څخه زیات) د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د دوو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوې، چې یو یې د اپریل پر ۲۲ په کابل او بل یې د مئ پر ۶ په خوست کې پیښ شول. لکه څرنګه چې یې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۸ کال د جولای په شپږ میاشتنیو تازه معلوماتو او د ټاکنو اړوند بریدونو په اړه د ۲۰۱۸ کال د مئ په ځانګړي راپور کې یادونه شوې، دولت ضد عناصرو د رایه اچوونکو د ثبت مودې پرمهال په ټاکنو پورې اړوند تاوتریخوالي باندې لاس پورې کړي، چې د د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د کارونې، ځانمرګو بریدونو او هدفي وژنو له لارې یې د تذکیرو د ویش مرکزونه او د رایه اچوونکو د ثبت سیمې، او دغه راز په ټاکنو پورې اړوند کارمندان په نښه کړي، لکه د ټاکنو کارکوونکي او د ملي پولیسو هغه افسران چې د ټاکنو اړوند ساحو لپاره د امنیت برابرولو ته ځانګړي شوي.[9]

یوناما ملاحظه کړې چې زیاتره هغه ساحې چې د رایه اچوونکو د ثبت او انتخاباتي مرکزونو لپاره کارول شوي په ښوونځیو، روغتیایي کلینیکونو او جوماتو کې موقعیت لري. د ټاکنو اړوند پر دغو ساحو د بریدونو په پایله کې په ملکي مرګ ژوبله کې د ویجاړتیا سر بیره، د یوناما ماموریت د پوهنې، روغتیا او عقیدې د ازادۍ پر حقونو د منفي اغیزې په اړه اندیښمن دی. ماموریت په ځانګړې ډول د ۲۰۱۸ په اکتوبر او د ۲۰۱۹ په اپریل کې د پلان شویو ټاکنو په ورځو کې د انتخاباتي مرکزونو په خیر د هغوي د دوامدارې کارونې په اړه اندیښمن دی.

ماموریت همدارنګه په دې وروستیو کې د نوماندانو د په نښه کولو په اړه اندیښمن دی، چې یو مثال یې په کندهار کې د سپتمبر د ۲۵ پیښه ده، په کومه کې چې د پارلمان لپاره یو نوماند، څوک چې په خپله ټولنه کې د مدني فعال او په فساد

[9] د رایه اچوونکو د ثبت په ابتدایي دوره ۱۰ مئ ۲۰۱۸ کې د ټاکنو اړوند بریدونو او تیریو په د یوناما ځانګړی راپور وګورئ، چې پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی:
.http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

کې ښکیلو سیاستوالو په ضد د یوه ښه ویناوال په څیر پیژندل کیده، د وسله والو له خوا په ډزو ووژل شو. طالبانو د دغې پیښې مسوولیت پر غاړه واخیست.[10]

یوناما د ټاکنو د نورو پړاونو لپاره په دغو ساحو کې د وضع شویو اضافي احتیاطي تدابیرو هرکلی کوي، څو افغان رایه اچوونکي وژغوري او د سیاسي ګډون خپل حقونه وکاروي، او پر دولت ضد عناصرو غږ کوي، چې د ټاکنو اړوند ساحو په نښه کولو څخه لاس واخلي. یوناما له دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي، چې د ملکیانو او ملکي تاسیساتو په ضد لکه د ټاکنو اړوند ساحې، په ځانګړي ډول هغه چې په ښوونځیو، جوماتونو او کلینیکونو کې موقعیت لري، بریدونه ودروي، کوم چې هغه تاسیسات ګڼل کیږي چې د ځانګړي دیني، ټولنیز او بشري اهمیت له امله ورته د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې ځانګړې ساتنه برابره شوې. دولت ضد عناصر باید کوټلي او د پام وړ ګامونه پورته کړي څو د بنسټیزو بشري حقونو او د بشرپالنې د اصولو د رعایت کولو پخوانۍ ژمنې پوره کړي.

وسله واله شخړه او ماشومان

د ۲۰۱۸ کال د لومړیو نهو میاشتو په جریان کې، یوناما د وژنو او معیوبیت، جنسي ناوړه ګټې اخیستې د پیښو او د افغان نجونو او هلکانو د استخدام او کارولو په اړه په دوامداره توګه راپورونه ترلاسه کړې، دا په افغانستان کې په ماشومانو د وسله والې شخړې جدي اغیزې په ډاګه کوي. د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ نیټې او د اګست د میاشتې د ۳۰ نیټې تر منځ، یوناما د وسله والې شخړې په پایله کې د ماشومانو ټولټال ۱۲۳۶ تلفات (۶۵۳ مړینې او ۱۴۸۳ ټپي کیدنې) مستند کړې چې دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۱۵ سلنه کموالي ښیي. که څه هم ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی، خو په عمده ډول د ځمکنیو نښتو پر مهال د لږو ماشومانو وژل او ټپي کیدل رامنځ ته شوي . ماموریت همدارنګه د غیر ځانمرګو په د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو په پایله کې د ماشومانو د تلفاتو په برخه کې کمښت هم ریکارډ کړی، خو په خواشینې سره یادونه کوي چې د ځانمرګو او ډله ییزو او هوایي بریدونو په پایله کې د ماشومانو تلفات زیات شوي او دا چې د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د فشار د آلو په نتیجه کې د یو – پر دري څخه زیات تلفات د ماشومانو دي. که څه هم چې یوناما د دغې پیښې د نمونو په پایله کې د تلفاتو د ټولیز کموالي سره په سمون کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو په تلفاتو کې کموالی ریکارډ کړی، ماموریت د اندیښنو پر سر ټینګار کوي چې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې ماشومان د تلفاتو ۹۰ سلنه جوړوي.

د داعش په اړه د ځانګړې یادونې وړه ده ، ماموریت د دولت ضد عناصرو له خوا د ماشومانو د استخدام د دوامدره فعالیت په اړه یادونه کوي. د لوړې کچې د استخدام د یوې ځانګړې پیښې په یادولو سره، د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۳۱، د طالبانو سره د سختو جګړو وروسته، نږدې ۲۵۰ تنه چې ځان داعش جنګیالي معرفي کوي د جوزجان ولایت د درزآب په ولسوالي کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته تسلیم شول. ټولټال ۸۹ توقیف شویو کسانو ادعا کوله چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه ټیټ دي، ۵۵ یې د ملي امنیت د ریاست له خوا نیول شوي و او د راپورونه له مخې د څلورو عمرونو د ۱۲ کلونو څخه ټیټ وو. یوناما د ماشومانو استخدام او کارول غندي او د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي څو دا ډول غیر قانوني کړنه چې په ماشومانو باندې داسې بدې اغیزې لري، سمدلاسه ودروي.

---

[10] د طالبانو له خوا د پیښې د مسوولیت ادعا پر دغې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ ده، http://alemarah-english.com/?p=35057په وروستي ځل د ۲۰۱۸ د اکتوبر پر ۷ کتل شوې.

د یوناما ماموریت افغان چارواکو ته د دې یادونه کوي چې د ماشومانو توقیف باید یواځې د وروستۍ چارې او لنډ مهاله مناسب وخت په حیث وکارول شي او د چارواکو څخه غوښتنه کوي چې هغه ماشومان دي ژر تر ژره د تنکیو ماشومانو د احیا او اصلاح مرکزونه ته لکه څنګه چې د ملي امنیت د ریاست په ۰۴۲۳ لارښود کې راغلي انتقال کړي.

د نورو تفصیلي معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما کلنیو راپورونه ته مراجعه وکړئ چې په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:-http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians (reports